❖❖❖

# د قطر بهرني سياست کې د نرم ځواک رول: د دوحې قرارداد او منځګړتوب

محمد اقبال احمدزی*

***لنډيز***

*د دوحې قرارداد چې د افغانستان اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د قطر په منځګړتوب په دوحه کې لاسلیک شو، په افغانستان کې یې د امریکا شل کلن اشغال ته د پای ټکی کېښود. د قطر دولت د منځګړتوب رول په منځني ختیځ او نړیواله کچه دې هېواد ته مهم معنوي ارزښت ورکړی. د قطر له‌خوا د ورته نرم ځواک کارول د دغه هېواد د بهرني سیاست اساس دی. دا څېړنیزه مقاله د قطر په بهرني سیاست کې د نرم ځواک او منځګړتوب رول د دوحې قرارداد په تناظر کې څېړي. د دې څېړنیزې مقالې ابتدایي بحث دا دی، چې قطر څرنګه په بهرنۍ پالیسۍ کې متوجه ګواښونو ته د نرم ځواک د وسایلو په کارولو سره ځواب وایي، او د قطر په بهرنۍ پالیسۍ کې د نرم ځواک رول ولې او څرنګه رامنځته شو. دا څېړنه په توصیفي-تحلیلي مېتود او د نرم ځواک د تیوریکي لارښود په رڼا کې د دوحې قرارداد قضیه راسپړي او له لومړنیو او دویمي سرچینو څخه په استفادې په دې اړه استدلال وړاندې کوي. د مقالې بحث دې پایلې ته رسېږي چې د دوحې قرارداد له لاسلیک کېدو سره قطر د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ په بریالي منځګړتوب سره خپل سیمه‌ییز اعتبار او نرم ځواک زیات کړی او لا هم د اسلامي امارت او لویدیزې نړۍ ترمنځ د منځګړتوب په چارو کې مخکښ رول لري.*

***کلیدي کلمات:*** *نرم ځواک، د قطر بهرنۍ پالیسي، منځګړتوب، د دوحې قرارداد، منځنی ختیځ.*

*د بهرنیو چارو وزارت د امنیتي همکاریو او سرحدي چارو ریاست غړی

**سریزه**

د دوحې قرارداد، چې د افغانستان اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د ۲۰۲۰ز کال د فبروري په ۲۹مه د قطر په دوحه کې لاسلیک شو، په افغانستان کې یې د امریکا شل کلن اشغال پای ته ورساوه. د خبرو اترو په دې پروسه کې د قطر دولت د منځګړي په توګه مهم رول ولوباوه او د طالبانو د سیاسي دفتر په کوربه‌توب او د دوحې تړون ته د اسانتیاوو د ملاتړ په برابرولو سره، قطر د افغانستان په شخړه کې د یوه مهم منځګړي په توګه ځان ثابت کړ. دې چارې په منځني ختیځ کې قطر ته مهم معنوي ارزښت ورکړ. د دې ترڅنګ، د قطر له‌خوا د ورته نرم ځواک کارول له دغه هېواد سره مرسته کوي چې یو مثبت نړیوال انځور جوړ کړي او د قطر په اړه د نړیوالو پر نظرونو مثبته اغېزه وکړي.

دغه هېواد د رسنیو، کلتوري پانګونې، بشردوستانه مرستو، سپورت ډیپلوماسۍ، او فعالې ډیپلوماتیکې ښکېلتیا له لارې، په اغېزناکه توګه د نړۍ په کچه خپل لاسرسی او اغېز پراخوي، چې دا د اتحادونو، ستراتیژیکو منځګړتوبونو او په نرم ځواک کې د پانګونې ترکیب دی. همدا لامل هم دی، چې د دغه قرارداد له لاسلیک او د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته هم له افغانستان سره د قطر سیاسي اړیکي د منځګړتوب، بشردوستانه مرستو او ډیپلوماتیک تسهیل کوونکي په توګه پام‌وړ رول لوبوي.

د افغانستان له خاورې څخه د لویدیزو پوځې ځواکونو له وتلو او د اسلامي امارت بیا واکمنېدو وروسته، افغانستان نه یوازې د سیمې له هېوادونو بلکې له لویدیزو هېوادونو سره هم تعامل ته ورووړاندې شوی، چې په دې برخه کې هم قطر بنسټیز رول لوبوي.

په دې مقاله کې د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د مذاکراتو لپاره د قطر د غوره کېدو پر عواملو تحلیلي بحث کوو او له ثانوي منابعو په استفادې سره د قطر په بهرني سیاست کې ډیپلوماتیکې ستراتیژۍ او نرم ځواک تحلیلوو. دا څېړنیزه مقاله به واضح کړي، چې کوم عوامل وو چې دا پروسه یې ټکنۍ کړې وه. فرض هم دا دی چې د قطر همدغه د

منځګړتوب رول کولای شي د ا.ا.ا او امریکا ترمنځ د دوحې قرارداد په ښه تطبیق او تعامل رامنځته کولو کې هم اغېزناک واقع شي.
دلته د یوه ښه تحلیلي بحث لپاره لومړی د نرم ځواک پر مفهوم او دا چې منځګړتوب څنګه کولای چې په نرم ځواک او بهرنۍ پالیسۍ کې عمده رول ولوبوي، بحث کوو. وروسته د قطر بهرني سیاست او په بهرني سیاست کې یې د نرم ځواک عنصر ته کتنه کوو. ورپسې د دوحې قرارداد او د قطر د منځګړتوب ډیپلوماسي راسپړو.

**نرم ځواک او په بهرني سیاست کې یې رول**

د نرم ځواک مفکوره د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو پوهانو لهخوا په ۱۹۹۰مه لسیزه کې رامنځته شوه. جوزیف نای چې د نړیوالو اړیکو په برخه کې یوه نفوذ لرونکې څېره ده، د نرم ځواک د مفکورې بنسټ ایښودونکی دی. د هغه نظرونو د نړیوالو اړیکو او ډیپلوماسۍ پوهاوي ته یوه نوې بڼه ورکړې ده. په لاندې کرښو کې د نرم ځواک په اړه د جوزیف نای نظریو ته یوه ځغلنده کتنه کوو.

جوزیف نای په خپل کتاب کې چې په ۱۹۹۰ز کال کې یې لیکلی، د نرم ځواک مفهوم وړاندې کړ. هغه نرم ځواک د یوه هېواد د هغې وړتیا په توګه تعریفوي، چې د جبر یا تادیې پرځای د جذب او هڅونې له لارې ترلاسه شي او نور اغېزمن کړي (جوزیف نای، ۱۹۹۰). د ده په نظر نرم ځواک له سخت ځواک سره توپیر لري. په سخت ځواک کې د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د جبر او زور، لکه نظامي او اقتصادي اقداماتو کارول شامل دي. نرم ځواک برعکس د غوره‌توبونو د رامنځته کولو، د اتحاد جوړولو او نفوذ د ترلاسه کولو له لارې رامنځته کېږي (جوزیف نای، ۲۰۰۴: ۱۴). د نرم ځواک په اړه د نوموړي مفکورې په نړیوال سیاست کې د جذابیت او نفوذ پر رول ټینګار کولو سره د نړیوالو اړیکو مفاهیمو ته بدلون ورکړ. د هغه کار د غیر اجباري وسیلو له لارې خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د ملت وړتیا رامنځته کولو کې د کلتور، سیاسي ارزښتونو او

اغېزناکې بهرنۍ پالیسۍ اهمیت په گوته کوي. نرم ځواک یو لړ سرچینې لري چې ځینې دلته د بېلگې په توگه یادوو. مثلا: ویلی شو چې په نرم ځواک کې کلتور او کلتوري نفوذ یو له مهمو ټاکونکو عواملو څخه بلل کېږي. د یوه هېواد کلتوري نفوذ کولی شي د هغه نرم ځواک پیاوړی کړي. په دې کې د میډیا، هنرونو، او تعلیمي موسسو نړیوال لاسرسی شامل دی. له بله پلوه د نرم ځواک په کارولو کې سیاسي ارزښتونه هم یو له مهمې وسیلې شمېرل کېږي، چې کولی شي نرم ځواک ته وده ورکړي. مثلا: د غرب له خوا ډیموکراسي، بشري حقونه او د قانون حاکمیت په نورو ملتونو د نفوذ لرونکي عامل په توگه کارول کېږي. دې ته ورته اغېزناکه دیپلوماسي هم هغه وسیله ده چې د یوه هېواد د بهرنۍ پالیسۍ او څو اړخیزې ښکېلتیا جذابیت زیاتوي او دا هم د نرم ځواک سرچینه کېدای شي.له همدې امله، یوه بنسټیزه ستراتیژي کولای شي د نورو په چلند د اغېزې کولو لپاره وکارول شي. یو دولت کولی شي خپل نرم ځواک د بېلابېلو سرچینو لکه بهرني سیاست، کلتور، رسنیو، بشردوستانه مرستو، بهرنۍ پانگونې، سیاحت او د منځگړتوب د هڅو له لارې ترلاسه او پراختیا ورکړي (الرشیدي،۲۰۲۱ ).

حکومتونه د خپل نفوذ د پیدا کولو او پراخولو لپاره نورې ډېرې وسیلې کاروي. دوی کولی شي سخت ځواک، چې نظامي ځواک او اقتصادي بندیزونه پکې شامل دي هم وکاروي، چې دا ډول زور او جبر کولی شي ملیاردونه ډالر مصرف کړي او هم د ځاني تلفاتو لامل شي. له بلې خوا د سخت ځواک په نسبت نرم ځواک داسې وسیلې کاروي چې ځاني تلفات او ویرانۍ پکې نه رامنځته کېږي. نو هېوادونه کولی شي چې د هنر، کلتور، لوبو او نورو کلتوري صادراتو له لارې وکړی شي خپل نړیوال شهرت پیاوړی کړي. له همدې کبله، قطر هم د خپل نړیوال نفوذ د پراختیا لپاره د نرم ځواک پیاوړي کولو تگلاره غوره کړې او دا مهال نرم ځواک د قطر په بهرنۍ پالیسۍ کې مهم رول لوبوي. دا چاره له دغه هېواد سره مرسته کوي چې خپل نړیوال نفوذ زیات کړي او په نړیواله کچه یو مثبت انځور وړاندې کړي (سي ایف آر، ۲۰۲۴).

**د قطر بهرنۍ پالیسۍ ته لنډه کتنه**

د قطر بهرنۍ پالیسي د نرم ځواک په کارولو سره په سیمه او نړۍ کې د خپل نفوذ پراخولو لپاره یو لړ تخنیکونه په خپل ځان کې رانغاړي، چې له لارې یې قطر غواړي د همدغو تخنیکونو په کارولو سره په منځني ختیځ کې خپل حضور د یوه قوي دولت په توګه ثابت کړي. همدارنګه د قطر په بهرنۍ پالیسي کې د ستراتیژیک توازن عمل کارول هم وسیله ده، چې موخه یې د نړیوالو اړیکو لپاره د عملي چلند په ساتلو سره د خپل سیمه‌ییز نفوذ پیاوړتیا ده. د قطر د بهرنۍ تګلارې له مهمو اړخونو یو اړخ د امریکا متحده ایالات دي. قطر د متحده ایالاتو قوي متحد دی او په سیمه کې د متحده ایالاتو تر ټولو لویه نظامي، اډه چې العدید هوایي اډه نومېږي، قطر یې کوربه توب کوي. دا ملګرتیا د قطر د امنیت لپاره خورا مهمه ده او دې سره په سیمه کې د امریکا متحد پاتې شوی دی (بلانچارد او شارپ، ۲۰۱۴).

په ۱۹۷۰مه لسیزه کې په قطر کې په ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي برخو کې ډېر بدلونونه او پرمختګونه رامنځته شول. د قطر د وخت امیر شیخ حمد بن خلیفه په دې نظر و، چې له سعودي عربستان سره په سیمه کې د یوه ستر قدرت په توګه خپل موقف وښيي، چې ډېری داخلي او بهرنۍ پرېکړې د سعودي تر سرپرستۍ لاندې ترسره کېدلې (عبدالله، ۲۰۱۴). دا په داسې حال کې وو، چې سیمه له چټکو بدلونونو او ګواښونو سره مخ وه، شیخ حمد د قطر د موقعیت له امله له ورپېښو خطرونو څخه خبر و (السلیطي، ۲۰۲۴). پر دې سربېره، قطر چې له کم نفوسه هېوادونو څخه و، نه شوای یې کولی له بهرنیو ګواښونو څخه د ځان د دفاع لپاره اغېزناک پوځ جوړ کړي. نو ځکه یې د متوجه ګواښونو په منځ کې په خپلو چارو کې د سعودي عربستان مداخله او تسلط احساساوه. له همدې کبله د نوې خپلواکې بهرنۍ تګلارې اړتیا لیدل کیده (ګرې، ۲۰۱۳). دا فکر په ۱۹۹۰ز کې پر کویټ د عراق تر برید وروسته نور هم پیاوړی شو، چې د ټولې سیمې او په ځانګړې توګه

د کوچنيو عربي دولتونو لپاره يو ټکان و. په دې لړ کې قطر هم د کويټ پر برخليک د اخته کېدو په وېره کې و، چې هسې نه د کوم ګاونډي له‌خوا اشغال شي (السليطي، ۲۰۲۴). په دې توګه، له ډېرو هڅو وروسته قطري واکداران اړ شول چې د هېواد په بهرنۍ پالیسۍ کې بدلون راولي. قطر هڅه وکړه د خپل بهرني سياست په اړه نوې بهرنۍ تګلاره جوړه کړي، چې تر نن ورځې پورې دوام لري (کابلان، ۲۰۱۹: ۹٦). دا پالیسي تر ډېره د نرم ځواک په بنه کې وه. دې پالیسۍ کې د نړيوالې سولې او امنيت ټينګښت، په سيمه‌ييز او نړيوال ډګر کې د پام وړ لوبغاړي په توګه رول لوبول، او همدارنګه د طبيعي مايع ګاز صنعت د دې پالیسي له مهمو اصولو وو، چې په کې د قطر د حاکميت او خپلواکۍ ساتنه، د اسلامي او عربي هويت دفاع، د نړيوالو ميثاقونو او کنوانسيونونو درناوی او د عامه او بشري حقونو دفاع شامل دي.

تاريخي اسنادو ته په کتلو داسې معلومېږي، چې د قطري حاکمانو بهرنۍ تګلارې په څلورو جلا پړاوونو وېشل کېدای شي، چې هره دوره د داخلي مفکورې پربنسټ ټاکل کېږي. لومړنۍ مرحله يې د فارس په خليج کې د بهرنيانو د مداخلې له کبله، د قطر دولت د نامعلوم ليدلوري په توګه پېژندل شوې (رابرټس،۲۰۱٦ :۲). د سيمې او نړۍ په کچه د امپراتوريو (عثمانيانو او انګليسانو)، او په منځني ختيځ کې د لويو قدرتونو ترمنځ کړکېچ هغه پېر و، چې قطر پکې په يو نامعلوم حالت کې قرار درلود.

د قطر د بهرنۍ تګلارې دوهم پړاو په ۱۹۸۰ لسيزه کې د قطر د نوي نسل د مشرانو په منځ کې راڅرګند شو. که څه هم د هغه وخت وليعهد د قطر د امنيت د تضمين لپاره د يوه مرکزي اتحاد رامنځته کولو په لټه کې و، چې د قطر امنيت تضمين کړي. په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه د قطر د نفوذ لوړولو لپاره د نوموړي پلان په بې‌طرفه شخړو کې د منځګړتوب له اړخه د شهرت رامنځته کولو، له اسراييلو او ايران سره د اړيکو پرانيستلو، د الجزيرې تلويزيوني شبکې رامنځته کول، او د قطر د مايع طبيعي ګاز صنعت پراخول د قطر نرم ځواک خپرولو په خاطر پلي کړل.

د عرب پسرلي په جریان کې، قطري واکمنو په فعاله توګه د قطر د نسبتا بې‌طرفه تاریخي دریځ سره په ښکاره ډول د یوه اړخ په ملاتړ په بهرنیو شخړو کې د مداخلې هڅه وکړه. د قطر د بهرنۍ پالیسۍ دا دریمه انقلابي دوره بللی شو، چې په سوریه، لیبیا او مصر کې د عرب پسرلي په مبارزه کې ور ګډ شو او تر ډېره اغېزناکه هم نه ده بلل شوې.

څلورمه دوره یې د تمیم بن حمد له‌خوا پر مخ وړونکې پالیسي بللی شو، چې ممکن د خپل پلار د لومړنۍ بهرنۍ پالیسۍ دورې ته په پام سره اوسنۍ پالیسي تدوین او د قطر په ثابت ساتلو کې ترې ګټه پورته کېږي. دې سره یو ځل بیا قطر وتوانېد چې یو پیاوړی شهرت رامنځته کړي او ځان په سیمه‌ییزو شخړو کې د منځګړي په توګه ثابت کړي (رابرټس،۲۰۱٦:۳). د سولې په خبرو اترو کې یې په ځانګړې توګه په سوډان، لبنان او افغانستان کې د منځګړتوب رول لوبولی دی. دا دیپلوماتیک رول د قطر د پراخې ستراتیژۍ برخه ده، چې له لارې یې خپل نړیوال دریځ او نفوذ زیاتول غواړي. له بله اړخه د قطر په بهرنۍ پالیسي کې د نرم ځواک د کارولو له ډلې رسنیز نفوذ او کلتوري دیپلوماسي هم ده، چې له دې لارې په نرم ځواک کې د پام وړ پانګونه کوي. بشري او پرمختیایي مرستې د قطر په بهرنۍ پالیسۍ کې یوه بله د نفوذ وسیله بلل کېږي. د قطر بهرنۍ پالیسي د عملي اتحادونو، ستراتیژیکو منځګړتوبونو او په نرم ځواک کې د پام وړ پانګونې ترکیب دی. نو ویلی شو، چې د نرم ځواک دا ډول ستراتیژیک کارول د قطر د نسبتا کوچنې جغرافیوي جوړښت او محدود نظامي ظرفیت ته په پام سره، د قطر د بهرنۍ تګلارې لپاره اړین دي.

**د قطر بهرنۍ پالیسۍ کې د نرم ځواک رول**

د قطر په بهرنۍ پالیسۍ کې نرم ځواک یو مهم او عمده رول لري، چې له دې لارې غواړي په نورو باندې خپلې اغېزې او نفوذ ولري. د قطر له‌خوا د نرم ځواک کارول د دغه د بهرنۍ پالیسۍ اساس جوړوي، چې له دغه هېواد سره د یوه مثبت نړیوال انځور په

جوړولو، د نړیوالو په نظرونو اغېزه کولو، او دیپلوماتیکو اړیکو ته ودې ورکولو کې مرسته کوي. د رسنیو، کلتوري پانګونې، بشردوستانه مرستو، سپورت ډیپلوماسۍ، او فعالې ډیپلوماتیکې ښکېلتیا له لارې، قطر په مؤثره توګه په نړۍ کې خپل نفوذ او اغېز پراخوي (نایر، طه، ۲۰۲۱). په لاندې برخه کې د قطر د نرم ځواک دغه ذکر شوي اسباب او وسایل په لږ څه زیات وضاحت سره بیانوو.

**د رسنیو رول:** د قطر په بهرنۍ پالیسي کې د نرم ځواک د ترلاسه کوله لپاره یو مهم فکتور رسنۍ هم بلل کېږي. د رسنیو له جملې څخه یوه یې الجزیره تلویزیوني شبکه ده. دا شبکه په ۱۹۹۶ز کې د قطر لپاره د ملي نشان او ارزښت ترلاسه کولو لپاره رامنځته شوې، چې د قطر د فعالې ډیپلوماسۍ یو له خورا اغېزناکو اړخونو څخه ده (ابو سلیب، ۲۰۱۷ : ۳۰). ویلی شو چې الجزیرې شبکې په خورا ښه توګه ځان په منځني ختیځ کې د نظر مخکښه سرچینه ثابته کړې. دغه چینل په خپلو خپرونو او بحثونو کې د خپل شعار په درلودلو سره وتوانېد چې ډېرى عربي او لویدیځ لیدونکي راجلب کړي. الجزیرې په چټکۍ سره له یوه داخلي او سیمه‌ییز چینل څخه په نړیواله شبکه ځان بدل کړ، چې په څو نړیوالو ژبو کې چینلونه لري او په انټرنیټ او ټولنیزو شبکو کې هم په سلګونو بریښنایي پلیټ فارمونه او په میلیونونو لیدونکي لري (السلیطي، ۲۰۲۴). په منځني ختیځ کې د نورو عربي رسنیو په پرتله الجزیره د عرب پسرلي په جریان کې د لاریونونو په پوښښ کې بریالۍ شوه. برعکس، ډېرى نور عربي چینلونه د دوی د حکومتونو له‌خوا د پېښو په خپرولو کې په احتیاط مجبور کړای شوي وو. دا استدلال کېدای شي، چې دا شبکه د آزادو مطبوعاتو له لارې د هېواد د سیمه‌ییز نفوذ د لوړولو لپاره د حکومت د هیلو سمبول دی. الجزیرې له قطر سره مرسته وکړه، چې خپل نرم ځواک پراخ کړي او د بیان د آزادۍ پر بنسټ یوه نوې اجنډا جوړه کړي (فیګینسچو، ۲۰۱۳).

**کلتوري دیپلوماسي:** کلتوري دیپلوماسي یوه بله وسیله ده چې قطر یې د ځینو وسایلو لکه موزیمونه او هنرونو په کارولو سره پر مخ بیایي. قطر په کلتوري پروژو کې ډېره پانګونه

کوي، مثلاً د نړۍ په کچه د موزیمونو پراختیا لکه د اسلامي هنرونو موزیم او د قطر ملي موزیم. دا بنسټونه نه یوازې اسلامي او قطري کلتور ته وده ورکوي، بلکې د نړۍ پام ځانته راجلبوي. همدارنګه پېښې او جشنونه، د نړیوالو هنري فیستیوالونو کوربه‌توب، د فلم نندارې، او کلتوري پروګرامونو تبادلې سره مرسته کوي، چې قطر کلتوري وده وکړي او ځان په سیمه کې د یوه مخکښ کلتوري مرکز په توګه ثابت کړي.

**د سپورت ډیپلوماسي:** له شلمې پېړۍ راهیسې د نړیوالیتوب په پراخېدو سره ځینو نړیوالو لوبو هم په نړۍکې جیوپولیټیکي اهمیت ترلاسه کړ. لوبې او په لویه کچه نړیوالې سیالۍ د جغرافیایي، مذهبي، ټولنیزو، یا سیاسي توپیرونو په پام کې نیولو پرته پر ذهنونو اغېزه کوي. قطر هم په لوبو او نورو مهمو سیالیو کې څرګنده کړې، چې قطر نړۍ ته معرفي کړي او خپل حاکمیت لازیات کړي. دې سره د قطر دولت د نرم ځواک مفهوم پلي کوي. قطر د سپورت ډیپلوماسۍ په ډېرو برخو کې پانګونه کړې (الرشید، ۲۰۲۱). قطر لومړنی عربي هېواد دی، چې د فوټبال د نړیوال جام کوربه‌توب یې په بریالیتوب سره وکړ. قطر په ۲۰۱۰ز کې داوطلبۍ د ګټلو راهیسې د سخت حالت سره مخ شو. ډېرو د قطر په وړتیا شک درلود، چې د یوه کوچني دولت په توګه به څنګه ټوله نړۍ په خپله خاوره کې راټولوي، خو له ټولو ستونزو سره سره قطر بیا هم په دې وتوانېد، چې د نړۍ د ملتونو کوربه شي او دا لویه پروژه یې په ښه ډول ترسره کړه (السلیطي، ۲۰۲۴). قطر توانېدلی چې نه یوازې تنظیمي وړتیاوې وښیي بلکې په نړیواله کچه خپل کلتوري او ملي هویت ته هم وده ورکړي. ددې تر څنګ په نړیواله کچه په ورته اقدام سره د نړیوالو اړیکو په جوړولو کې مرسته کوي او د دې جوګه ګیږي چې د قطر عصري او متحرک انځور وړاندې کړي.

**طبیعي ګاز:** په ۱۹۷۱ز کال کې د شیل تیلو کمپنۍ په دوحه کې د نارت فیلډ په نوم د نړۍ تر ټولو لویه د ګازو ساحه کشف کړه (فایلر او زیف، ۲۰۱۷). دې کار قطر ته په سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو کې ځانګړی مقام ورکړ. که څه هم ایران او روسیه هم د

طبيعي گاز لومړی او دويمې سترې زېرمې لري، خو د ۱۹۸۰مې لسيزې له نيمايي راهيسې د قطر د طبيعي گازو د ظرفيت له چټک پرمختگ سره قطر د دې وړ شو، چې د گازو مخکښ صادرونکی شي. د قطر د انرژۍ پالیسي داسې ښکاري، چې د عرضې او تقاضا د اساساتو له مخې ترتيب شوې وي. د انرژۍ قراردادونه نړيوال بازار ته ځي، چې لوړ قيمت ترلاسه کوي او په دې توگه د قطر په وړتيا کې د پام وړ رول لوبوي. قطر د نورو بهرنيو هېوادونو د غوښتنو په پوره کولو سره د خپلو اړيکو تنوع کولو وړتيا کې د برخه اخيستونکو په رامنځته کولو سره د انرژي ځانگړې ستراتيژي غوره کړې. دا ستراتيژي کولی شي، په غير مستقيم ډول قطر ته نړيوال امنيت وروبښي، ځکه چې د طبيعي گاز لپاره د خپلو شريکانو اړتيا د هغې ثبات پورې تړلې ده او په دې توگه د بهرنۍ پاليسۍ له اهدافو سره تړاو لري (السليطي، ۲۰۲۴).

**په منځني ختيځ کې سياسي رقابت**

منځنی ختيځ يوه پېچلې سيمه گڼل کيږي چې د نړيوالو او سيمه‌ييزو هېوادونو گټې پکې له يو بل سره تل په ټکر کې وي. له همدې کبله په عمومي ډول له تېرو څو لسيزو راهيسې، په منځني ختيځ کې نه يوازې دا چې د نړيوالو زبرځواکونو رقابت روان دی، بلکې په خپله د سيمه‌ييزو هېوادونو ترمنځ هم رقابتونه په اوج کې دي. په منځني ختيځ کې د دغو رقابتونو تر شا په سيمه کې د دغو هېوادونو سيمه‌ييزې گټې، په سيمه کې ستراتيژيک نفوذ، د مشرۍ پر سر سيالي او مذهبي اختلافات رول لري.

منځنی ختيځ په نړيوال سياست کې هم د لويو قدرتونو د اتکا نقطه ده. د منځني ختيځ وروستيو پېښو ته په کتلو سره ويلای شو، چې دا په نړيواله کچه هم يوه پېچلې سيمه ده او ډېری مهال له سيمه‌ييزو هېوادونو پرته يو شمېر نړيوال زبرځواکونه هم په دې سيمه کې ښکېل شوي دي. د دې سيمې د سياسي پيچلتيا تر شا يو لړ عواملو رول لرلی دی. دا چې دا سيمه اوس په نړيوال سياست کې مهم ځای لري نو ويلی شو چې ځينې عمده عوامل لا هم شته دي؛ لکه: د فلسطين-اسراييل قضيه، د منځني ختيځ د انرژۍ وسايل، د ايران

اتومي پروګرام، جيوايکانوميک اهميت، د اسرايلو او ايران دښمني او يو شمېر نور عوامل دي، چې د نړيوالو پام يې هم ځانته اړولی دی. د دغو سياسي رقابتونو په لړ کې له قطر سره د سيمې د هېوادونو سياسي رقابت هم يادولی شو .له قطر سره د منځني ختيځ د عرب هېوادونو ديپلوماتيک پريکون د يادولو وړ دی، بلکې د دغو هېوادونو ترمنځ اړيکې د يو لړ لويو مسايلو په پېښېدو سره مخکې هم خرابې شوې دي. ( سي، ايس، آر، ايس، ۲۰۱۷)

په منځني ختيځ کې د پېچلي سياسي رقابت له وجې د هېوادونو ترمنځ اړيکې وخت په وخت خرابې شوې دي. تر شا يې بېلابېل لاملونه وو، چې دلته يې يادونه کوو. په قطر کې اخواني مشرانو ته پناه ورکول، د قطر له‌خوا حماس يوه مقاومتي ډله ګڼل، د الجزيرې خبري شبکه او داسې نور. ( سي، ايس، آر، ايس، ۲۰۱۷). د دې تر څنګ د قطر خپلواک بهرنی سياست او د منځني ختيځ او سيمې په ځينو قضاياو کې د منځګړتوب رول هم هغه عوامل وو، چې د قطر، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، ايران او د منځني ختيځ ځينې نورو هېوادونو ترمنځ يې سياسي رقابتونه رامنځته کړل. په هرصورت، د دوی له‌خوا قطر په دې هم تورن شوی و، چې د انصار الله ډله چې سعودي عربستان يې لوی ګواښ ګڼي، د قطر له‌خوا حمايه کېږي. د دې ترڅنګ ځينې نور اختلافات لکه د قطر له خوا له ايران او اسراييلو سره د اړيکو ټينګول او همدارنګه په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر پرانيستل هم وو (فيشر مکس، ۲۰۱۷).

د احتمالي منځګړتوب له فرصت څخه په استفادې، دوحې له واشنګټن او طالبانو سره د باور د ټينګښت لپاره د خبرو لړۍ پيلول غوښتل، په داسې حال کې چې يو وخت په کابل کې د سعودي عربستان د هغه وخت سفير له‌خوا وړانديز شوی و، چې رياض د طالبانو د مشرتابه لپاره يو منظم ځای دی چې له اروپايي سياسي مشرانو سره ښکيل شي. رياض او ابوظبي دواړو هڅه کوله د دوحې پروسه محدوده کړي (ميشرا او کاونرت، ۲۰۲۴).

د دوی دا سياسي رقابت د دې لپاره و، چې د سولې په خبرو کې له منځګړيتوب سره

سیاسي امتیاز لاسته راوړي.

**د قطر - افغانستان سیاسي اړیکې**

له تاریخي پلوه د افغانستان او قطر ترمنځ اړیکې او په بېلابېلو برخو کې همکاري خورا محدوده وه. که څه هم له پخوا راهیسې افغانستان په دوحه کې سفارت درلود او په وروستو کې په قطر کې اسلامي امارت سیاسي دفتر هم پرانیست، خو قطر بیا په کابل کې د ناڅرگندو دلایلو له مخې سفارت نه درلود. په ۲۰۱۵ز کال کې هم قطر غوښتل چې په کابل کې خپل سفارت پرانیزي، خو د نا څرگنده عواملو له کبله بیا هم دا کار تر څو کلونو وځنډېد، چې بالاخره په ۲۰۱۹ز کال کې قطر په کابل کې خپل سفارت پرانیست. د ۲۰۱۸ کال په جنورۍ کې، قطر له ناټو سره یو تړون لاسلیک کړ، چې له مخې یې د ناټو پرسونل قطر ته د ننوتلو او ترانزیت اجازه ورکوله چې د العدید هوایي اډې څخه به پکې کار اخیستل کېده (قطر-امریکا انستیتیوت، ۲۰۱۸). سربېره پر دې، قطر په افغانستان کې د سولې او امنیتي همکاریو لپاره د کابل پروسې غړی و (نسریه پشتون، ۲۰۱۹ :۴۰).

په ټوله کې له افغانستان سره د قطر سیاسي اړیکې د منځگړتوب، بشردوستانه او ډیپلوماتیکو اسانتیاوو په رامنځته کولو را څرخي. دغه هېواد له خپل دریځ څخه د افغان سولې په بهیر کې د نفوذ، مرستې او له طالبانو سره د دیپلوماتیکو اړیکو د ساتلو لپاره کار اخیستی دی. دا تگلاره د خپل نړیوال نفوذ د زیاتولو او سیمه‌ییزو ننگونو د ډب کېدو لپاره د نرم ځواک او ډیپلوماتیکې ښکېلتیا په کارولو کې د قطر پراخه ستراتیژي منعکسوي.

قطر په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر کوربه و، چې د طالبانو په اړه په نړیواله ډیپلوماسۍ کې د پام وړ بدلون په گوته کوي. دا دفتر د طالبانو لپاره له نړیوالو لوبغاړو سره د ښکېلتیا او له افغان حکومت سره د خبرو اترو لپاره یو مهم ادرس وگرځېد، چې یو مهم اقدام یې د سولې خبرو ته زمینه برابرول وو او په پایله کې یې د دوحې تړون لاسلیک شو. تر دې هاخوا دوامداره ډیپلوماټیک چینلونه برابرول هم د قطر په منځگړتوب ترتیب شول.

حتی واک ته د طالبانو د بیا راستنېدو وروسته، قطر له طالبانو سره خلاص ډیپلوماتیک چینلونه ساتلي، چې د طالبانو او بیلابیلو نړیوالو لورو ترمنځ د خبرو اسانتیا برابروي (سي ایف آر، ۲۰۲۴). قطر د افغانستان د وضعیت د حل لپاره د نړیوالو غونډو او کنفرانسونو کوربه‌توب کړی، چې پکې د بشري مرستو او سیاسي حل لارو بحثونه هم شامل دي. دا ښکېلتیا د ډیپلوماتیک منځګړتوب په توګه د سیمه‌ییزو اړیکو توازن په رامنځته کولو سره د قطر او افغانستان اړیکې لا پیاوړې کوي. له طالبانو سره د خبرو په دوام، قطر ځان د سیمه‌ییز ثبات او ډیپلوماسی په برخه کې د یوه مهم لوبغاړي په توګه مطرح کړی دی.

## د دوحې قرارداد او د قطر د منځګړتوب ډیپلوماسي

د دوحې قرارداد د قطر په منځګړتوب په افغانستان کې د امریکا او ناټو د پوځي اشغال پای ته رسولو لپاره په ۲۰۲۰ز کال کې لاسلیک شو چې ترې وړاندې یې د خبرو اترو اوږده پروسه هم موجوده وه. د خبرو اترو په دې پروسه کې د قطر دولت د منځګړي په توګه مهم رول ولوباوه. د قطر له‌خوا د ورته نرم ځواک کارول د دغه هېواد د بهرنۍ پالیسي اساس دی، چې له دې هېواد سره مرسته کوي چې یو مثبت نړیوال انځور جوړ کړي او د قطر په اړه د نړیوالو په نظرونو مثبت اغېزه وکړي. د دوحې قرارداد د سولې داسې یو تړون دی چې په افغانستان کې یې هغه جګړه چې د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته د امریکا او متحدینو له‌خوا پیل شوه، پای ته ورسوله. هودالي (۲۰۲۱) په دې تړاو یادونه کړې، چې متحده ایالاتو هڅه کوله چې له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره یو بې‌طرفه ځای ومومي، ځکه چې دوی په دې پوهیدلي وو، چې په افغانستان کې هیڅ نظامي بریا شونې نه ده. په ورته ډول، ځینو باور درلود چې افغانستان د متحده ایالاتو لپاره یوه ناکامه پروژه وه؛ په دې توګه یې پریکړه وکړه چې خپل ځواکونه وباسي او له طالبانو سره خبرې اترې وکړي (السلیطي، ۲۰۲۴). په ۲۰۰۱ز کال کې هم د امریکا له‌خوا غوښتنه شوې وه چې قطر دې د افغانستان په شخړه کې د منځګړي په توګه ونډه واخلي. د قطر د ټاکلو لاملونه ډېر هم

روښانه نه دي؛ خو داسې انګیرل کېږي چې د قطر منځګړتوب د طالبانو لهخوا ځکه ومنل شو چې د هغه وخت د مشرتابه لهخوا د منځګړتوب په توګه د کوم هېواد د ټاکلو لپاره ځینې شرایط ټاکل شوي وو، هغه ټول په قطر کې پوره وو. په شرطونو کې دا هم شامل وو، چې یو اسلامي هېواد دې منځګړتوب وکړي چې د ناټو له هېوادونو سره مستقیم ډول ګاونډی نه وي، په افغانستان کې پوځونه ونه لري، ناټو ته کوم لوژستیکي مرسته ورنهکړي او نه هم له طالبانو سره کومه سابقه ولري. نو له همدې امله دا ټول شرطونه د قطر په انتخاب کې پلي کېدل (السلیطي، ۲۰۲۴). په دې توګه ویلی شو چې دواړو لوریو ته قطر د سم منځګړتوب په توګه غوره انتخاب و، ځکه دوی په دې باور وو، چې په دې قضیه کې د قطر رول ښه ثابتېدای شي، ځکه چې قطر له طالبانو او امریکا دواړو سره متوازنې اړیکې لرلې. تر ټولو مهمه دا وه چې قطر د العدید اډې کوربهتوب کوي، چې په منځني ختیځ کې د متحده ایالاتو تر ټولو پراخه پوځي اډه ده. له همدې امله ویلای شو چې قطر له یوې خوا له طالبانو سره او له بلې خوا له امریکا سره د سولې په برخه کې ښه دریځ درلود، په همدې اساس د امریکا په غوښتنه او د طالبانو له منلو سره قطر د منځګړي په توګه ښکیل شو. د قطر د منځګړتوب رول په ۲۰۱۱ز کې د پټو ناستو له لارې څرګند شو، چې پکې د لومړي ځل لپاره د طالبانو پلاوي ته داسې چینلونه پرانیستل شول چې وکولای شي په افغانستان کې سیاسي وضیعت ته د حل په اړه د پام وړ پرمختګ وکړي (روتیګ، ۲۰۱۴: ٤٤).

ایمن (۲۰۱٦) په دې تړاو کاږي، چې دغه دفتر په لومړیو کې د افغان حکومت په هوکړې سره پرانیستل شو. مګر وروسته د کرزي د حکومت لهخوا له یو لړ اعتراضونو سره مخ شو. خو په امریکا کې بیا د اوباما ادارې ځکه د دغه دفتر ملاتړ وکړ چې د بریالیو بین الافغاني خبرو اترو او د متحده ایالاتو د ځواکونو وتلو ته لاره هواره کړي (کټزمان، ۲۰۱۹). په هر صورت، اختلاف څو اوونۍ وروسته هغه وخت رامنځته شو چې د طالبانو په سیاسي دفتر کې د افغانستان اسلامي امارت د بیرغ او د "افغانستان اسلامي امارت" نوم

راغلي وو (یوسف او جبارخیل، ۲۰۲۱). په ورته وخت کې، د اوباما اداري ټینګار وکړ چې دفتر باید د طالبانو د سفارت په ډول استازیتوب ونه کړي. په پایله کې، شخړه د دفتر د تړلو لامل شوه او خبرې اترې له ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۸ پورې ځو ځلې وځنډېدې (اردماغني، ۲۰۲۱). د قطر په هڅو د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې په ۲۰۱۴ کال کې په دوحه کې بیا پیل شوې. د دوی ترمنځ د بندیانو د تبادلې په اړه د بحث لپاره ډېرې غونډې وشوې. په ۲۰۱۷ز کې، ډونالډ ټرمپ لهخوا نوې ستراتیژي اعلان شوه چې په بهرنیو هېوادونو کې پوځي مداخله او بحرانونه پای ته رسول پکې منعکس شوي وو (بلانچارډ، ۲۰۱۴). په پایله کې، ټرمپ په دوحه کې د طالبانو له استازو سره د خبرو اترو د بیا پیل لپاره ځانګړی استازی وټاکه (روټینګ، ۲۰۱۱). په ۲۰۱۸ز کې متحده عربي اماراتو ته د خبرو اترو د لیږدولو نظر رامنځته شو، خو متحده عربي امارات د غونډې په ترسره کولو کې پاتې راغلي وو. یو علت یې دا کېدای شي چې متحده عربي اماراتو ځینې شرطونه وضع کړي وو، چې د طالبانو له خوا رد شوي وو. د یادولو وړ ده چې په دې اړه په سیمه کې نورو هېوادونو هم د منځګړتوب هڅې وکړې خو د قطر په څېر په منځګړتوب بریالي نه شول. په دوحه کې د طالبانو سیاسي دفتر تاسیس کېدل د دې باعث شول، چې طالبانو ته د سیاسي خبرو اترو او ډیپلوماسۍ په هنر کې د ښکېلتیا فرصت هم برابر شي.که په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر نه وای جوړ شوی، شاید ددې فرصت نه وای رامنځته شوی چې د افغان جګړې ښکېلې خواوې دومره ژر په یوه میز سره کېني (السلیطي، ۲۰۲۴:۲۷). د افغانستان سیاسي حل ته په اسانه رسېدل ځکه ناشوني وو، چې د طالبانو او امریکا د استازو ترمنځ خبرې د دواړو خواوو ترمنځ د متقابلو سوء تفاهماتو له امله څو ځلې لغوه شوې وې. سره له دې چې د ډېرو اړخونو هڅې وې چې د منځګړتوب دا رول انحصار کړي (مزکوکو او کافیرو، ۲۰۲۲). د طالبانو او متحده ایالاتو د خبرو اترو کوربهتوب لپاره د څو حکومتونو ترمنځ د سیالۍ شاهدان وو. متحده عربي اماراتو، سعودي عربستان او

پاکستان هڅه وکړه چې د خبرو اترو زمينه برابره کړي (برکات، ۲۰۲۰). که د قطر د رول د مخنيوي هڅې نه واې، نو د ۲۰۲۰ز تړون به دمخه لاسليک شوی و. دغه ناستې چې اتلس مياشتې يې دوام وکړ، د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په مياشت کې د قطر په دوحه کې د امريکا او طالبانو ترمنځ هوکړه د قطر د منځګړتوب د هڅو نتيجه وه. د تړون له مهمو مادو څخه يوه يې له افغانستان څخه د متحده ايالاتو او بهرنيو ځواکونو بشپړ وتل و، په داسې حال کې چې طالبانو ډاډ ورکړی چې نړيوالو ترهګرو ته به ځای نه ورکوي (جونز، ۲۰۲۰). دا تړون بې له شکه تاريخي ګڼل شوی ځکه چې د شخړې ښکيلو خواوو ته يې د يوې ټاکلې مودې په اوږدو کې د پوځي عملياتو د پای ته رسولو روښانه نقشه چمتو کړې وه. په ورته ډول، دا په تاريخ کې ترټولو اوږد د اشغال ختمولو پای و او قطر د خپلې انعطاف وړ ډيپلوماسۍ سره پدې قضيه کې د ټولو ننګونو څخه تيريدلو توان درلود.

**د اسلامي امارت او قطر اړيکې او د تعامل فرصتونه**

له افغانستان سره د قطر اړيکو په دې وروستيو کې د پام وړ وده کړې ده. په ۲۰۲۱ز د اسلامي امارت له واک ته رسېدو راهيسې قطر په سيمه کې د يوه مهم ډيپلوماتيک لوبغاړي په توګه ځای نيولی او په افغانستان کې د بېلابېلو اړخونو ترمنځ د خبرو اترو د سهولتونو رامنځته کولو او منځګړتوب کې يې له خپل نفوذ څخه کار اخيستی دی. د قطر د بهرنيو چارو وزير لومړنی لوړپوړی بهرنی چارواکی دی چې د نوي اسلامي حکومت له اعلان وروسته يې افغانستان ته د ۲۰۲۱ز کال د سپټمبر پر ۱۲مه سفر وکړ (جلالي، ۲۰۲۱). دا د افغانستان او قطر ترمنځ روابطو کې يو ډېر مهم پرمختګ ګڼل کېږي. دا پوښتنه رامنځته کېږي چې افغانستان ولې د قطر په بهرنۍ پاليسي کې مهم ځای لري. قطر په خليج کې کوچنی، خو غني او د ډېرې فعالې ډيپلوماسۍ لرونکی هېواد دی. د ا.ا.ا په لومړۍ واکمنۍ کې په خليج کې سعودي او اماراتو د افغانستان د وخت حکومت په رسميت پېژندلی و. قطر که څه هم ډېرې تودې اړيکې ورسره پاللې؛ خو په رسميت يې نه و پېژندلی. د ۲۰۱۰ز کال کې په لومړي ځل د طالبانو استازي قطر ته ولاړل. دوی وتوانېدل چې په ۲۰۱۳ز کال

کې د نړیوالو رسنیو په حضور کې سیاسي دفتر پرانیزي. په دې ډول، قطر د افغان سولې او مذاکراتو د بهیر پر مهمو لوبغاړو بدل شو. د دوحې د هوکړې له لاسلیک وروسته، قطر د بین الافغاني خبرو کوربه شو. خو بین الافغاني خبرې د نا معلومو دلایلو له وجې له ناکامۍ سره مخ شوې چې په پای کې د غني د رژیم د پاشلتیا لامل شو. اوس چې طالبان بیا واک ته رسېدلي، قطر فکر کوي چې هڅو یې نتیجه ورکړې. که څه هم قطر لا د ا.ا.ا. په رسمیت نه دی پېژندلی. له دې سره سره د افغانستان په بهرنۍ پالیسي کې هم قطر ته مهم ځای ورکړل شوی. هغه دا چې د قطر په همکاري له نړۍ سره د افغانستان تعامل ممکن دی. دا چې افغانستان کې د امارت اسلامي نظام په داسې وخت کې حاکم کېږي، چې له یو اړخه امریکايي اشغال پای ته رسېدلی او له بل اړخه د امریکا په ګډون له غربي نړۍ سره د متقابل تعامل او ګټو پر بنسټ اړیکې په رغېدو دي. د ۲۰۲۱ز کال راهیسې د منځګړي په توګه د قطر رول د بېلابېلو مسوولیتونو سره یو نوي پړاو ته داخل شوی، چې په دوو مهمو ټکو کې خلاصه کېدای شي: لومړی پراختیایي او بشري مرستې او دوهم ډیپلوماټیک ملاتړ.

**بشري او پراختیايي مرستې: د** ۲۰۲۱ز کال له اګست راوروسته، قطر په فعاله توګه په بشري هڅو کې ښکیل شو. دغه هېواد په افغانستان کې د بشري ناورین د حل لپاره د پام وړ مرستې کړې دي، چې په کې په خوراکي او طبي توکي او د بې ځایه شویو ملاتړ شامل دی. همدارنګه قطر په پرمختیایي پروژو کې خپل ګډون ته دوام ورکوي، چې موخه یې د افغانستان د زیربناوو بیارغونه او د دې هېواد د پوهنې او روغتیا پاملرنې سیستمونو ملاتړ کول دي. مثلاً: قطر د ۲۰۲۱ز کال د سپټمبر په میاشت کې د افغانستان د تمویل کوونکو په کنفرانس کې ګډون وکړ او له افغانستان سره یې د ۵۰ میلیونه ډالرو مرستې ژمنه وکړه. همدارنګه د افغانستان په اړه د ۲۰۲۲ ز کال کنفرانس کې یې د افغانستان د بشري مرستو لپاره ۲۵ میلیونه ډالره اضافي مرسته وکړه (د قطر بهرنیو چارو وزارت، ۲۰۲۲). سربیره پردې،

د پراختیا لپاره د قطر وجهي صندوق (QFFD) او د قطر د بهرنیو چارو وزارت له‌خوا د افغان محصلینو او د پوهنې په برخه کې مرستې شاملې دي. دا هغه څه دي چې قطر یې له افغانانو سره د بشري مرستو په لړ کې پر مخ بیایي. له دې سره سره یې د افغانانو د ایستلو بهیر (تخلیې پروسه) کې هم ونډه درلودلې ده. د ۲۰۲۱ کال د اگست له نیمایي راهیسې، قطر له ۷۵۰۰۰ څخه زیات کډوال له افغانستانه ایستلي دي. قطر د ډېرو هېوادونو لکه متحده ایالاتو، انگلستان، آلمان، کاناډا او ناروې، او د ډېرى نړیوالو سازمانونو سره د کارکونکو د ایستلو اسانتیاوې هم برابرې کړې دي (هماغه، ۲۰۲۳). دا پروسه د قطر له‌خوا له افغانانو سره د بشري مرستو په لړ کې د دوی مهم اقدام گڼل شوی دی. د دغو مرستو په لړ کې یې د کابل هوایي ډگر ترمیم او بیا پرانستل هم شامل دي چې بې له شکه دې کار افغانستان ته د ډېرو اړینو مرستو رسیدو ته لاره خلاصه کړه.

**ډیپلوماټیک ملاتړ:** قطر د اړوندو هېوادونو په بلنه د خپلې دیپلوماتیکې مرستې د یوې برخې په توگه د افغانستان په اړه د G7 او G10 په غونډو کې گډون وکړ. همدارنگه یې له نړیوالو شریکانو او د ا.ا.ا. سره د گڼو غونډو، سلا مشورو او د راپورونو د تبادلې له لارې له ترهگرۍ سره د مبارزې او په افغانستان کې د بشري حقونو د خوندیتوب په برخه کې په نړیوالو هڅو کې برخه اخیستې ده (کیفیرو، ۲۰۲۲). سربېره پر دې، د افغان کړکېچ په دې پړاو کې د قطر لوژیستیکي ورتیاوې بریالۍ ثابتې شوې دي. له بلې خوا د الجزیرې شبکې په نړیواله کچه د افغانستان د وضعیت په اړه په ځانگړې توگه د طالبانو له خوا د کابل تر نیولو وروسته په نړیواله کچه پوښښ او د خبرونو په خپرولو کې مهم رول لوبولی دی (سوفوغلو، ۲۰۲۰). همدا ډول اوغلو (۲۰۲۱) یادونه کوي، چې قطر یوه پرانستې دروازه ده چې له دې لارې لویدیځ کولای شي طالبانو ته لاسرسی ولري. له امریکا پرته ډېر هېوادونه لکه برتانیا په دې باور دي چې د افغانستان په مسایلو کې د قطر حضور له طالبانو سره د اړیکو د ساتلو لپاره مهم او حیاتي دی. په دې اړه د قطر د بهرنیو چارو وزیر هم ویلي، چې قطر د خپل صداقت او بې‌پرې‌توب له امله په افغان ولس کې ځانگړی

مقام لري. قطر له ټولو سره د ښو اړیکو له امله له ټولو اختلافي اړخونو سره خبرې کولی شي. دا هم ویلی شو چې قطر یوازینی عربي هېواد و، چې د متحده ایالاتو له‌خوا تنظیم شوي مجازي ناسته کې یې برخه اخیستې وه چې له کابل څخه د امریکا له وتلو وروسته د چلند په اړه یې بحث وکړ (اردماګني، ۲۰۲۱) چې دا په افغانستان کې د خپلې ښکېلتیا او منځګړتوب په ستراتیژۍ کې د قطر بریالیتوب ثابتوي. همدارنګه د قطر چارواکو خبرداری ورکړی، چې د ښځو د حقوقو د خوندي کولو په لړ کې یو شمیر داسې کړنې شته دي چې په دې پروسه کې یې خنډونه رامنځته کړي دي، چې دا ډول کړنې به د افغانستان پر بشري حقونو، پرمختګونو او اقتصاد منفي اغېزې ولري (مزکوکو او کافیرو، ۲۰۲۲). د ا.ا.ا سره رسمي دیپلوماتیکې ښکېلتیا ته که څیر شو، قطر له طالبانو سره ډیپلوماټیک چینلونه ساتلي، د طالبانو او مختلفو نړیوالو لوبغاړو ترمنځ د خبرو اترو زمینه برابروي. د قطر بې طرفي او ډیپلوماتیک شتون دا شرایط مساعدوي چې د اړیکو لپاره د پل په توګه کار وکړي (میشرا او کاونرت، ۲۰۲۴).

**تحلیل**

دا چې قطر خپل ارزښت په ډیپلوماټیک فعالیت کې ثابت کړی، د یوه بریالي منځګړي په توګه د خپل اعتبار په ثابتولو سره یې وکولای شول، چې د نرم ځواک په کارولو سره سیمه‌ییز قدرت شي. دې مقالې د قطر د منځګړتوب ستراتیژي د دې انګېرنې پر بنسټ تحلیل کړې چې د دې ستراتیژۍ تر شا د قطر هدف په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د خپل رول او نرم ځواک لوړول وو، او له بل پلوه د قطر او امریکا ترمنځ د ستراتیژیکې همکارۍ په لړ کې د اعتبار زیاتېدل په ګوته کوي. دا چې قطر څنګه د نړیوالې ټولنې په منځ کې د باور وړ متحد شو او ولې قطر د خپل بهرني سیاست د اساسي ستنې په توګه منځګړتوب غوره کړ، دا روښانه کوي چې د نرم ځواک په کارولو سره قطر وکولای شول چې په منځني ختیځ کې خپل ځان مطرح کړي. څرنګه چې قطر په نړۍ کې یو له کوچنیو

دولتونو څخه شمېرل کېږي، نو د خپل موقیعت د ثابتولو لپاره يې د نرم ځواک د زیاتېدو په وسایلو تکیه کړې، چې پورته په تفصیلي توگه بحث پرې شوی دی. پورتنی بحث ثابتوي چې ټولو ذکر شویو وسیلو په ټولیزه توگه له دې هېواد سره مرسته کړې چې په سیمه او نړۍ‌کې خپلې ملي گټې تضمین کړي. قطر له جغرافیوي اړخه د سیمې د قدرتونو په منځ کې د کوچني دولت په توگه د دې لپاره چې په سیمه‌ییزه او نړیواله سطحه نفوذ ترلاسه او د شاوخوا گواښونو مخنیوی وکړي نو يې فعاله ډیپلوماتیکه ښکېلتیا غوره کړې، چې دا چاره د دې هېواد له بنیادي مفکورې څخه راوځي.

بل تحلیل دا دی چې، قطر یو له هغو څو هېوادونو څخه و، چې د طالبانو تېر حکومت يې په رسمیت نه پېژانده خو روابط يې درلودل. نو ویلی شو چې د دوحې تړون کې د منځگړي په توگه د قطر انتخاب له یو لړ کړلېچونو خالي نه وو. له یوې خوا د طالبانو او غني د حکومت ترمنځ اختلاف او له بلې خوا له امریکا سره متقابل ناسم پوهاوی موجود و. په دې توگه د قطر لپاره د منځگړتوب دا پروسه اسانه نه وه. له بلې خوا د نورو هېوادونو له خوا هم هڅې رواني وې چې دا پروسه کم رنگه کړي. خو بیا هم، د ټولو ننگوونو سره سره، قطر خپلې ښکېلتیا ته دوام ورکړ. په دې هڅو سره يې امریکا ته دا فرصت په لاس ورکړ، چې په افغانستان کې له جگړې څخه د وتلو ستراتیژي وومي او دا کار له طالبانو سره د خبرو اترو پرته ناشونی و. په هرصورت، لویدیځ هېوادونه د قطر له منځگړتوب څخه نسبتآ خوښ ښکاري. همدارنگه روسیه او چین هم، چې له طالبانو سره د تماس لپاره یې ترکیه غوره انتخاب گاڼه، خو اوس د قطر رول مناسب بولي.

دلته یو بحث دا هم کیدای شي چې قطر څکه ځان په سیمه کې د منځگړي په توگه څرگند کړی، چې خپل سیمه‌ییز دریځ او نفوذ لا پراخ کړي. په ۱۹۷۰مه لسیزه کې، قطر په سعودي عربستان باندې تکیه درلوده، له دې تسلط څخه د وتلو په هڅه کې يې د نویو ستراتیژیو په پلي کولو پیل وکړ، او د خپلو ډیپلوماتیکو شبکو او ټولنیزو-اقتصادي اړیکو جوړولو لپاره يې د خپل گاونډي له سیوري څخه د یوه خپلواک منځگړتوب په توگه گام

پورته کړ (هوډالي، ۲۰۲۱). دا چې قطر د منځګړتوب د هڅو تاريخچه او تجربه لرله، نو د باور وړ شريک په توګه د ښکېلو خواوو له‌خوا منل شوی و، نو ځکه تر ټولو غوره انتخاب و. بل دليل دا و، چې د نورو قضيو په پرتله، قطر نه يوازې د جګړې د ښکيلو خواوو ترمنځ د خبرو اترو منځګړتوب او اسانتياوې برابرې کړې، بلکې د خبرو اترو مشري يې هم کړې ده.

له بله پلوه، د منځني ختيځ په پيچلي سياست کې چې سعودي، امارات او قطر يې مهم لوبغاړي دي، د افغانستان موضوع هر ياد هېواد ته د پام وړ ده. که له يوې خوا سعودي د اسلامي مرکزيت له وجې مهم دی، ترڅنګ يې ا.ا.ا. سره ځانګړې تاريخي-سياسي اړيکه لري. بله‌خوا قطر هغه هېواد دی چې له ا.ا.ا. سره يې اړيکې له تيرو څو کلونو راهيسې ټينګې شوې، که ا.ا.ا. وغواړي چې د امريکا په ګډون له غربي نړۍ سره تفاهم رامنځته کړي، دا چاره د قطر هېواد له لارې په ښه توګه ترسره کيدای شي، ځکه قطر په سيمه کې د امريکا د ستراتيژيک ملګري ترڅنګ بيا هم له چين، روسيې، ايران او ترکيې سره په اړيکو کې تعادل او توازن ساتلی. بلاخره، د افغانستان په قضيه کې د قطر د منځګړتوب رول په تحليل او درک کولو سره موخه دا ده، چې د قطر د بهرنۍ پاليسي په رڼا کې د منځګړتوب ستراتيژي غوره کولو سره د افغانستان د قضيې مختلفو اړخونو تحقيقي تشو ته ځواب وويل شي.

**پايله**

د دوحې قرارداد چې د افغانستان اسلامي امارت او امريکا ترمنځ د ۲۰۲۰م کال د فبروري په ۲۹مه لاسليک شو له افغانستان څخه يې د امريکايي او ناټو اشغالګرو ځواکونو ايستلو ته لاره هواره کړه. د خبرو اترو په دې پروسه کې د قطر دولت منځګړتوب دغه هېواد ته مهم معنوي ارزښت ورکړ. د قطر بهرنۍ پاليسي په عمده ډول د نرم ځواک په کارولو سره په سيمه او نړۍ کې د نفوذ پراخولو لپاره په يو لړ تخنيکونو ولاړه ده، چې قطر

غواړي د دغو تخنیکونو په کارولو سره په منځني ختیځ کې خپل حضور د یوه قوي دولت په ډول راڅرګند کړي.

د قطر ډیپلوماسي د نرم ځواک او منځګړتوب د پالیسۍ په کارولو سره د افغانستان په قضیه کې اغېزناکه ثابته شوې. په ټوله کې منځګړتوب د قطر په خارجي تعاملاتو کې لوی رول لوبولی او د ښکیلو خواوو ترمنځ یې د ډېرو شخړو په حل کې د سوله‌ییزو لارو څخه په کار اخیستلو مرسته کړې ده. له طالبانو سره د قطر ډیپلوماټیکه او بشردوستانه ښکېلتیا په سیمه‌ییز او نړیوال سیاست کې د دوی نفوذ زیاتوي. دا د قطر وړتیا ښیي، چې په پیچلو جیوپولیټیکي شرایطو کې د منځګړتوب او تسهیل کونکي په توګه عمل وکړي. له طالبانو سره د قطر سیاسي اړیکي د ډیپلوماسۍ، منځګړتوب او بشري مرستو له ستراتیژیک ترکیب څخه رامنځته شوې دي. د قطر دا کړنلاره د قطر د پراخې بهرنۍ پالیسۍ اهداف منعکسوي چې خپل نړیوال نفوذ لوړوي او د نرم ځواک او ستراتیژیکو ښکېلتیاوو له لارې ډیپلوماتیکو اړیکو ته وده ورکوي.

په پای کې باید یادونه وشي چې د ۱.۱.۱ لپاره د قطر منځګړتوب یو داسې فرصت هم رامنځته کړی، چې په مرسته یې کولی شي د منځني ختیځ په شمول غربي نړۍ سره هم له دې لارې سیاسي او اقتصادي تعامل رامنځته کړي او اړیکې نورې هم وغځوي. دې سره به قطر ته د منځګړتوب او تسهیل کوونکي په رول لوبولو سره هغه ګټې چې قطر یې په خپلې بهرنۍ پالیسۍ کې تعریفوي، ترې برخمن شي.

په دې توګه د راتلونکو څېړنو لپاره وړاندیز کېږي، چې راتلونکي مطالعات د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د قطر رول باندې ډېر تمرکز وکړي ځکه چې داسې انګیرل کېږي چې د قطر منځګړتوب یوې نوې کچې او مرحلې ته داخل شوی، او مختلف اړخونه یې رامنځته کړي دي.

## ماخذونه -

Abdullah, Jamal. (2014). As-Siyasah al-Kharijiyah lil-Dawlat Qatar (1995-2013): Dawafiha wa Istratijiyatiha. Markaz al-Jazeera lil-Dirasat -Ad-Dar al-'Arabiyah lil-'Ulum.

Abu Sulaib, F. (2017).Understanding Qatar's foreign policy, 1995–2017. Middle East Policy. Retrieved, from.
https://onlinelibrary.wiley.com/doi/full/10.1111/mepo.12306.

Al Sulaiti, H.E., (2024). *Qatar mediation strategy: afghanistan as a case study* (Master's thesis).

- Anant Mishra, Christian Kaunert, (2024) "How Qatar's mediation diplomacy elevated the Taliban to the seat at .Kabul".https://www.ifimes.org/en/researches/how-qatars-mediation-diplomacy-elevated-the-taliban-to-the-seat-at-kabul/5380.

Ardemagni, E. (2021). Still a mediator: Qatar's Afghan shot on the international stage. ISPI. https://www.ispionline.it/en/publication/still-mediator-qatars-afghan-shot-international-stage-31542.

Barakat, S. (2022). The Taliban's year-One report card. Taliban | Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/opinions/2022/8/15/a-year-in-power-talibans-rule-balance-sheet.

Blanchard, C. M., & Sharp, J. M. (2014). *Qatar: Background and US relations* (Vol. 4). Washington, DC: Congressional Research Service

Council on Foreign Relations (CFR) (2020). U.S.-Taliban Peace Deal: What to Know - Council o Foreign Relations (CFR).https://www.cfr.org/backgrounder/us-taliban-peace-deal-agreement-afghanistan-war.

- Council on Foreign Relations, 2024. What Is Soft Power?. https://education.cfr.org/learn/reading/what-soft-power

Diana Hodali. (2021). Qatar's role in Afghanistan: Doha and its Taliban friends.

Elias, T. (2021). Qatar's Sports Diplomacy as a Driver for International Visibility, Prestige, and Branding.". *States and Societies in the Gulf*.

Feiler, G., & Zeev, H. (2017). Understanding Qatar. In Qatar: The Limits of Nouveau Riche Diplomacy(pp. 11–28). Begin-Sadat Center for Strategic Studies. http://www.jstor.org/stable/resrep04750.5.

Figenschou, T. U. (2013). *Al Jazeera and the global media landscape: The South is talking back*. Routledge.

Fisher, Max. (2017) "How the Saudi-Qatar Rivalry, Now Combusting, Reshaped the Middle East." The New York Times, June 13, 2017. https://www.nytimes.com/2017/06/13/world/middleeast/how-the-saudi-qatar-rivalry-now-combusting-reshaped-the-middle-east.html

Gray, M. (2013).Qatar: Politics and the challenges of development. Lynne Rienner Publishers.

Harb, Malak. (2017) "Al-Jazeera a Target in Gulf Confrontation with Qatar." AP News, June 09, 2017. https://apnews.com/854b5ce82eb9467db8298d37e110d44d.

Hodali, D. (2021).Why Qatar fosters close contact with the Taliban. Retrieved from https://www.dw.com/en/why-qatar-fosters-close-.

https://www.dw.com/es/el-papel-de-qatar-en-afganist%C3%A1n-por-qu%C3%A9-mantiene-doha-contactos-estrechos-con-los-talibanes/a-59006126.

Ignacio Milman, (2021). The Emirate's diplomatic game to facilitate US-EU relations with the Taliban, in the face of Western reluctance to recognize the Afghan government. Qatar: Afghanistan's gateway to the West. Center for Global Affairs & Strategic Studies (GASS). https://en.unav.edu/web/global-affairs/catar-la-puerta-de-afganistan-para-occidente.

Jones, S. G. (2020). "War and Peace in Afghanistan."Center for Strategic and International Studies (CSIS). http://www.jstor.org/stable/resrep37625.

Kabalan, M. (2019). Actors, Structures and Qatari Foreign Policy. AlMuntaqa, 2(2), 61–82. https://doi.org/10.31430/almuntaqa.2.2.0061.

Katzman, K. (2019).Qatar: Governance, security, and U.S. policy. Retrieved from https://sgp.fas.org/crs/mideast/R44533.pdf.

Katzman, K. (2019).Qatar: Governance, security, and U.S. policy. Retrieved from.https://sgp.fas.org/crs/mideast/R44533.

- MOFA, (2022). Qatar Takes Part in Afghanistan Conference 2022. MEDIA CENTER. Doha / Information Office / March 30. https://mofa.gov.qa/en/qatar/latest-articles/latest-news/details/1443/08/27/qatar-takes-part-in-afghanistan-conference-2022.

Naier, T. (2021). Qatar soft power: from rising to the crisis. *International Journal of Business and Applied Social Science*, *7*(8), 43-52

Nye, J. S. (1990). Soft Power. Foreign Policy, 80, 153–171. https://doi.org/10.2307/1148580.

Nye, J. S. (2004). Soft power: The means to success in world politics. *Public Affairs*, *10*.

Oglu, M. R. (2021). Siyasat al-Khaleej Tajah Afghanistan: Al-Paragmatiyat al-Hadhra bayna al-Furs wa al-Makhauf. Majalah Ru'yah Turkiah (4/10). JamiatSakarya, Turkia.

Pashtun, Nasria (2018-2019) "contextualizing Qatar's Role and Relevance in Afghanistan's Quest for Peace." Afghanistan Women and Public Policy Journal, Vol. 5 (2018-2019): pp. 39-46. Retrieved from https://www.dropsafghanistan.org/wpcontent/uploads/2019/10/WPPJ -Vol5-2019.pdf

Qatar-America Institute,( 2018) "Qatar's Strategic Role within NATO's Resolution Support Mission | Qatar-America Institute.". https://qataramerica.org/qatars-strategic-role-within-natos-resolution-support-mission/

Roberts, D. (2012).Understanding Qatar's Foreign Policy Objectives. Mediterranean Politics. https://www.tandfonline.com/doi/full/10.1080/13629395.2012.695123.

Roberts, D.B., (2016). The four eras of Qatar's foreign policy. *Comillas Journal of International Relations*, *5*, pp.1-17.

Ruttig, T. (2011).The Battle for Afghanistan: Negotiations with the Taliban: History and Prospects for the Future. New America. http://www.jstor.org/stable/resrep10482.

Sofuoglu, M. (2021). What role will Qatar play in Taliban-ruled Afghanistan?. TRT World. https://www.trtworld.com/magazine/what-role-will-qatar-play-in-taliban-ruled-afghanistan-50002.

yman, S. G. (2016).Reconciliation with the Taliban: Challenges and prospects. Academia.edu. Retrieved from https://www.academia.edu/es/21921017/.

Yousaf, F., & Jabarkhail, M. (2021). US withdrawal and the Taliban regime in Afghanistan: Future Policy Directions. Swisspeace. http://www.jstor.org/stable/resrep36280.

ذاکر جلالي، (۲۰۲۱) .قطر او د افغانستان نوی بهرنی سیاست . نن ټکی آسیا.

– https://www.nunn.asia/193436

– سي، ایس، آر، ایس. (۲۰۱۷). د منځني ختیځ نوی دیپلوماتیک بحران او په سیمه يې اغېزې. د ستراتیژیکو

– او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز.

– **https://csrskabul.com/?p=3628**